زه تاسې) د الله تعالى نه په وېرېدلو او د حاکم (واکمن) په) اطاعت سره وصيت کوم که څه هم دا واکمن يو حبشي غلام وي، او ژر دی چې تاسو به زما نه وروسته سخت اختلاف وويني، نو تاسې زما او د هدايت موندونکو راشدينو خلفاوو په سنتو کلکې منګولې ولګوئ

له عرباض بن سارية رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم په مونږ کې ودرېده، نو مونږ ته يې يو ډېر له پند څخه ډک نصيحت وکړ، چې له امله يې زړونه په وېره کې شول او له سترګو اوښکې وبهېدلې، نو وويل شو چې اې د الله تعالى رسوله! تا خو مونږ ته داسې نصيحت وکړ لکه چې د الله په آمان نصيحت چې وي، نو مونږ ته وصيت وکړه، هغه وفرمايل: « (زه تاسې) د الله تعالى نه په وېرېدلو او د حاکم (واکمن) په اطاعت سره وصيت کوم که څه هم دا واکمن يو حبشي غلام وي، او ژر دی چې تاسو به زما نه وروسته سخت اختلاف وويني، نو تاسې زما او د هدايت موندونکو راشدينو خلفاوو په سنتو کلکې منګولې ولګوئ، د ژامې غاښونه پرې کلک کړئ او په دين کې له نويو طريقو راوېستلو څخه ځان وساتئ، ځکه چې (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده».

[صحيح دی] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو صحابه کرامو ته داسې په زړه پورې خطبه ورکړه چې له امله يې زړونه ووېرېدل او له سترګو اوښکې وبهېدې. نو هغوی وويل: اې د الله رسوله! دا خو داسې يو وعظ دی لکه څوک چې الله په اماني اخلي، ځکه هغوی رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې په وعظ او نصحيت کې يې زياته مبالغه وکړه، نو د وصيت غوښتنه يې ترې وکړه تر څو پرې له هغه وروسته منګولې ولګوي. هغه وفرمايل: د الله تعالى د واجباتو په پرې ځای کولو او له منهياتو څخه يې په ځان ساتلو سره درته له الله تعالى څخه په وېرېدلو وصيت کوم، او دا چې واکمنانو ته غوږ ونيسئ او پيروي يې وکړئ، که څه هم پر تاسې يو غلام واکمن شي، يعنې تر ټولو ټيټ انسان پر تاسې امير وګمارل شي نو سرغړونه ترې مه کوئ بلکې پيروي يې وکړئ، تر څو فتنه راولاړه نشي، ځکه يقينا که چېرته په تاسو کې له مانه وروسته څوک ژوندی پاتې شي نو زيات مخالفتونه به وګوري. بيا يې ورته لدې اختلاف څخه د وتلو لاره وښودله، چې هغه له هغه وروسته د رسول الله صلى الله عليه وسلم او راشدينو هدايت موندونکو خلفاوو په سنتو منګولې لګول دي؛ أبو بكر صديق، عمر بن الخطاب، عثمان بن عفان او علي بن أبى طالب رضي الله عنهم أجمعين، او دا چې د ژامې وروستۍ غاښونه پرې ټينګ کړي، چې پدې سره يې موخه په سنتو کلک پاتې کېدل او منګولې لګول وو. او په دين کې يې له نويو کارونو راپيدا کولو څخه ووېرول، ځکه (په دين کې) هر نوښت ګمراهي ده.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65057